

د جَشنِ وِلادت په باره کښې

# مکتُوبِ عطّار



(ربیع الاول)

**(Pashto)**

www.dawateislami.net



# د جَشنِ وِلادت په باره کښې مکتُوبِ عطّار

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د سگِ مدينه محمد الياس عطار قادِری رَضَوی عُفِیَ عَنۡہُ له طرفه د ټولو عاشقانِ رسول اسلامي ورونړو او اِسلامي خویندو په خِدمت کښې د جَشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې د پړقیدونکو مَدَني جَنډو، د ځلیدونکو بلپونو ښکلوونکي د شهدو نه خوږ مکّی مَدَنی سلام

اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ   اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ عَلٰی کُلِّ حَالٍ

تم بھی کر کے اُن کا چرچا اپنے دِل چمکاؤ   اونچے میں اونچا نبی کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

تاسو هم وکړئ د هغوئي چرچه خپل زړونه کړئ روښان<br>
اوپړقوئ کور په کور اوچته جنډه د نبي سُلطان

د میاشتي په اولنئ شپه درې ځله په دې الفاظو په جماتونو کښې اعلان وکړئ "ټولو عاشِقانِ رسُول ته دِ مبارك شي، د رَبِیعُ الۡاَوَّل شریف میاشت ښکاره شوه ؎

رَبیعُ الۡاَوَّل اُمیدوں کی دنیا ساتھ لے آیا   دعاؤں کی قَبولیّت کو ہاتھوں ہاتھ لے آیا

رَبِیعُ الۡاَوَّل د اُمِیدونو دُنیا ځان سره راوړه<br>
قبولِیَّت د دُعائي هُم د ځان سره راوړو

د سړي کیره خرئیل یا د یو موتي نه وړه کول دواړه حرام دي. او د اسلامی خور بې پردګي کول حرام دي. برائے کرم د رَبِیعُ الۡاَوَّل شریف په برکت دِ اسلامی ورونړه د همیشه د پاره یو موټې کیره پریږدي. او اسلامي خویندې دِ مستقل شَرعي پرده اختیار کړي. کاش چه د مَدَني بورقعې په سر کولو نِیَّت وکړي، (د سړي کیره خرئیل یا د یو موتی نه وړه کول او د ښځو بې پردګي کول حرام دي او زر تر زره د دې ګناهونو نه توبه کول واجب دي).

جُھک گیا کعبہ سبھی بُت منہ کے بل اَوندھے گرے   دَ بدبہ آمد کا تھا، اَھۡلًا وَّ سَھۡلًا مرحبا (وسائلِ بخشش ص۱٤۷)

ښکته شوه کعبه، پړمخ راغوزار شو ټول بوتان   دَ بدبه دَ آمد وه اهلاً وَّ سَهلًا مَّرحبا

په سُنَّتو او نيکو باندې د اِستقامت حاصلولو د پاره غټه مدني نُسخه دا ده چه ټول عاشقانِ رسول اسلامی ورونړه او اسلامي خويندې دِ هره ورځ د فکرِ مدينه په ذريعه د مدني انعاماتو په رساله کښې خانې ډکوي، او د هرې اسلامي مياشت په يکم تاريخ دِ د جمع کولو نيت وکړی. که په زړه کښې مو نِيَّت جوړ شوې وي نو لاس اوچت کړئ آو اووائې اِنْ شَآءَالـلّٰه عَزَّوَجَلَّ (ياد ساتئ! که په زړه کښې نِيَّت نه وي نو خلقو ته ښودلو د پاره لاس اوچتول چه زه هُم نِيَّت کووم، دا ګناه ده)

بدلياں رحمت کی چھائيں بُونداں رحمت کی آئيں　　اب مرادیں دل کی پائيں آمدِ شاہِ عرب ہے (قبالۂ بخشش ص ۱۸۴)

وريځې د رحمت راغلې باران د رحمتونو شو　　اوس به شي پوره ارمان آمدِ شاهِ عرب دې

ټول عاشقانِ رسول سره د نګران او سره د ذمه دارانو په رَبِيعُ الْاَوّل شريف کښې خصوصي طور کم نه کم د درې ورځو په مدني قافله کښې د سفر سعادت حاصل کړئ او اسلامی خويندې دِ د يوې مياشتې پورې په کور کښې دننه د کور اسلامی خويندو او مَحرَمو نارينؤ ته مدني درس جاري کړې او بيا د آئنده د پاره دِ هُم د جاری ساتلو نيت وکړي.

مجھے درسِ فیضانِ سنّت کی توفیق　　ملے دن میں دو مرتبہ یاالٰہی (عَزَّوَجَلَّ)

ما ته د درسِ فيضانِ سُنَّت توفيق　　راکړې په ورځ کښې دو ځله يا اِلٰهی (عَزَّوَجَلَّ)

په ښو ښو نِيَّتونو په خپل جُمات، کور، دُکان، کارخانه وغيره باندې ۱۲ يا کم نه کم يوه مَدَني جنډه د رَبِيعُ الْاَوّل شريف د مياشت ښکاره کيدو نه واخله د مياشتې د آخِرې پورې ولګوئ، ضرورتاً په خپلو روپو جنډې واخلئ او په بسونو، ويګنو، ټرکونو، ټرالو، ټيکسيانو، رکشو، ريړو، ټانګو وغيره ئې ولګوئ، په خپل سائيکل، سکوټر او موټر باندې ئې هم ولګوئ، اِنْ شَآءَالـلّٰه عَزَّوَجَلَّ هر طرف ته به د مَدَني جنډو ښکلې مَدَني سپرلې راشي. عام طور د ټرکونو شا طرف ته د ساه لرونکو ځيزونو غټې غټې تصويرونه جوړ وي او فضول شعرونه پرې ليکلې شوي وي زما دا خواهش دې چه د ټرکونو، بسونو، رکشو، ټکسيانو، سوزکو او موټرو وغيره شاته په واضحه الفاظو دا ليکلې شوي وي ”**مجھے دعوت اسلامی سے پیار ھے**“ [ترجمه: ”زه دعوتِ اسلامی سره مينه کووم“] د بسونو د مالکانو او ټرانسپورټ والو سره ملاقات وکړئ او دا مَدَني ترکيبونه جوړ کړئ او د سګِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ د زړه دُعا ګانې واخلئ.

**ضروری احتياط:** که په جنډه د نَعلينِ پاك نقشه وه يا څه نور ليك وو نو د دې خبرې خيال ساتئ چه په زمکه پرينوځې. او چه څنګه د رَبِيعُ الْاَوّل شريف مياشت ختمه شي نو فوراً ئې لرې کړئ که احتياط نه شئ کولې او

www.dawateislami.net

بې ادبي کيږي نو بيا د نقش او ليك نه بغير ساده مَدَني جنډې ولګوئ. سګِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ هم په خپل مکانِ بې نشان باندې ساده مَدَني جنډه لګوي.

نبی کا جھنڈا لیکر نکلو دنیا پر چھا جاؤ　　　　نبی کا جھنڈا اَمن کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

د نبی جنډه واخلئ او خواره شئ په دُنيا　　　　ولګوئ په هر ځائ د اَمن جنډه د خوږ آقا

خپل کور په دولسو لړو يا کم نه کم په دولسو بلپونو او جُمات او کوڅې هم ۱۲ ورځې په رنړاګانو ښائسته کړئ (ياد ساتئ! د بجلئ غلا کول حرام دي لِهٰذا د مُتعلقه ادارې سره رابِطه وکړئ او د دې جائز ترکيب جوړ کړئ) ټوله علاقه په مَدَني جنډو او رنګارنګ بلپونو د ناوې په شان ښائسته کړئ. د جُمات او د کور په بام [جنډې ولګوئ] او په چوك وغيره کښې هُم، خو چه لاَرَوو خلقو او سورلو ته تڪليف ونه رسي او حقوقِ عامّه ضائع نه شي. دولس ميټره يا د ضرورت مطابق د غټې سائز جنډې اوچتې را زوړندې کړئ. د مدني جنډې لګولو د پاره د سړك په مينځ کښې بانس مه خخوئ ځکه چه د دې سره د ټريفک نظام خرابيږي. هم دا شان په کوڅه وغيره يو ځائ کښې هُم داسې جنډې وغيره مه لګوئ چه د مسلمانانو لار پرې تنګيږي او د خلقو حُقُوق ضائع کيږي او زړونه ئې ازاريږي.

ایک مشرِق،ایک مغرِب،ایک بامِ کعبہ پر　　　　نَصب پرچم ہوگیا، اَھْلًاوَّ سَھْلًا مرحبا (وسائلِ بخشش مُرمّم ص۱٤٦)

يوه په مشرق، يوه په مغرب او يوه په بامِ کعبه　　　　ولګيده جنډه اَهلًا وَّ سَهلًا مرحبا

هر اسلامى ورور دِ د وَس مطابق زياتې يا د ۱۱۲ روپو يا کم از کم د ۱۲ روپو د **مکتبةُ الْمدينه** چاپ شوې رسالې او د مدني ګلونو مُختلِفې پرچې په **جُلُوسِ مِيلاد** کښې تقسيم کړي او اسلامې خويندې دِ ئې هم [د خپل مَحرَم په ذريعه] تقسيم کړي. هم دغسې ټول کال په خپل دکان وغيره کښې د تقسيمِ رَسائل په ذريعه د نيکئ دعوت عام کوئ. د ښادئ په پروګرامونو کښې يا د غم په موقع د مړو د ثواب د پاره تقسيمِ رَسائل کول او نورو مسلمانانو له هم ترغيب ورکول پکار دي.

بانٹ کر مَدَنی رسائل دین کو پھیلایئے　　　　کرکے راضی حق کو حقدارِ جناں بن جایئے

تبليغِ دين لپاره مَدَني رِسالې تقسيم کړئ　　　　کړئ الله راضى او مُستحق د جنت جوړ شئ

د مَكْتَبَةُالْمَدِينه ليکلې شوې پمفلټ (پرچئ) ''د جَشنِ وِلادت ۱۲ مدنی ګلونه'' او که کولې شئ نو ۱۱۲ يا کم از کم ۱۲ پرچئ او که کولې شئ نو رِساله صُبحِ بَهاراں (د سپرلی سحر) ۱۲ عدد د **مکتبةُ الْمدينه** نه هَدِيه کړئ او تقسيم ئې کړئ. خُصُوصاً د هغه تنظيمونو مشرانو ته ئې ورسوئ کوم چه د جَشنِ وِلادت خوشحالئ کوي. په رَبِيعُ

الْاَوّل شریف کښې (بالغان) ۱۲۰۰روپۍ که دا نه شي کېدې نو ۱۱۲روپۍ او که دا هم ونکړې شئ نو ۱۲ روپۍ یو سُنی عالم ته ورکوئ، که د خپل جمات امام ، مؤذن یا خادم باندې ئې تقسیم کړئ نو هم صحیح ده. بلکه که هره میاشت د دې خدمت د جاري ساتلو نیت وکړئ نو مدینه مدینه. که د جُمُعې په ورځ ورکړې شي نو د ا به غوره وي ځکه چه دَ جُمُعې په ورځ د هرې نیکۍ ثواب یو په اویا حاصلیږی. اَلْحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلّ دَ سُنَّتو ډکو بیانونو کیسټو اوریدلو سره د خلقو د اصلاح خبرونه شته دې. په تاسو کښې به هم څه نه څه داسې خوش نصیبه وي چه د بیان اوریدو په وجه به مدني ماحول ته راغلي وي لِهٰذا د سُنتو ډکو بیانونو او مَدَني مُذاکراتو میموري کارډونه خلقو ته رسَوَل د دین عظیم خدمت او بې اِنتِها ثواب دې. که خوك کولې شي نو په هره هفته کښې ۱۲ او که دا نه شي کولې نو کم از کم په میاشت کښې ۱۲ میموري کارډونه ضرور خرڅوئ او که وَس لرونکي اسلامي ورونړه ئې فِي سَبِیْلِ الله تقسیم کړي نو مدینه مدینه. دَ وَدُونُو په موقع د واده د کارډ سره مَدَني رِساله او که کېدې شي نو دا میموري کارډ هُم یو ځائ کوئ.

اُنکے در پے پلنے والا اپنا آپ جواب | کوئی غریب نواز تو کوئی داتا لگتا ہے

دَ هغوئ په در لوئ شوي هر یو دي پخپله خپل جواب | خوك داتا ښکاري او خوك غریبِ نواز

په غټ ښار کښې د علاقائی مُشاور هر نګران (او د کلي ذمه داران دِ په کلو کښې د) ۱۲ ورځو پورې هره ورځ په جماتونو کښې عظیمُ الشّان د سُنَّتو ډك اجتماعات منعَقِد کړي. (ذمه دارې اسلامي خویندې دِ په کورونو کښې د مائك [سپیکر] نه بغیر اجتماعات وکړي). په رَبِیعُ الْاَوّل شریف کښې په ټولو اجتماعاتو کښې که کېدې شي نو ټوله میاشت ځان سره مَدَني جنډه راوړئ.

لب پر نعتِ رسولِ اکرم ہاتھوں میں پرچم | دیوانہ سرکار کا کتنا پیارا لگتا ہے

په ژبه نعت دَ رسولِ اکرم، په لاس کښې جنډه | عاشِقِ رَسُول څومره ښکلي ښکاري

د یوولسمی په ماښام یا د دولسمی په شپه غُسل وکړئ. که کېدې شي نو د اخترونو د اختر [عِیدِ مِیلادُ النَّبِی] د تعظیم په نِیَّت سپینې جامې، عِمامه، سر بند [یعني د عِمامې نه لاندې په سر ترلو والا کپړه]، ټوپۍ، سپین څادر، د پردې د پاسه پرده کولو د پاره نسواري څادر، مِسواك، د جیب رومال، پیزار، تسبیح، د عطرو شیشه، دَ لاس ګړۍ، قلم، مَدَني قافله پیډ وغیره او د خپل استعمال هر څیز که کولې شئ نو نوې واخلئ. (اسلامی خویندې دِ هم د خپل ضرورت مطابق څیزونه که کولې شي نو نوي دِ واخلي)

آئی نئی حکومت سکّہ نیا چلے گا | عالم نے رنگ بدلا صبحِ شبِ وِلادت (ذوقِ نعت ص ٦٧)

راغـي نوې حکومت سِکه به نوې چلیږي | عالَم کړو رنګ بدل خپل په سحر دَ شبِ وِلادت

www.dawateislami.net

دولسمه شپه په اجتماعِ میلاد کښې تېروئ او د صبا صادِق په وخت کښې مدني جنډې په لاسو کښې راخلئ او درود سلام وئیلو سره په ژړېدلو سترګو د سپرلی د سحر استقبال کوئ. د سحر د لـمانځه نه پس یو بل ته سلام او د اختر مبارکي ورکوئ د یو بل سره ښه په ګرم جوشئ سره مُلاقات کوئ او ټوله ورځ یو او بل ته د اختر مبارکي ورکوئ.

عیدِ میلادُ النّبی تو عید کی بھی عید ہے  بالیقیں ہے عیدِ عیداں عیدِ میلادُ النّبی (وسائلِ بخشش ص ٤٦٥)

عــیدِ مِـیلادُ النَّبي لوئ اختر دي له اخترو هُم  بِالیقین دَ اخترونو غټ اختـر دي عِـیدِ مِـیلادُ النَّبـی

زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰه تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ګل په ورځ د خپل یومِ وِلادت په خوشحالئ کښې روژه نیوله. تاسو هم په یادِ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰه تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې په دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل روژه ونیسئ او مَدَنی جنډه په لاس په جلوسِ میلاد شریف کښې شریك شئ. څومره چه کیدې شي نو په اوداسه کښې اوسئ، په ژبه دُرُود و سلام او نعتونه جاري ساتئ. نظر ښکته ساتئ او ډیر د وقار په طریقه ګرځئ. ټوپونه وهل [او نور داسې حرکتونه] مه کوئ چه چا ته د اعتراض موقع په لاس ورشي.

ربیعُ الاوّل تجھ پر اہلسنّت کیوں نہ ہوں قرباں  کہ تیری بارھویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا (قبالہ بخشش ص ٣٧)

رَبِیعُ الْاَوَّل د هـر سُنِّي ځان په تـا قـربان دي
چه راغلي ستا په دولسم تاریخ زمونږ جانان دي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب  صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net